د لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

حقوق جزا او جنایی علومو دیپارتمنت

# د جزائي دعوې په مختلفو پړاوونو کې د مظنون، تورن او مدافع وکیل وجایب

**(د لیسانس پایلیک)**


ترتیب کوونکې: سلماء ساپۍ

لارښود استاد: پوهنوال محفوظ الله عارفي


Ketabton.com

کال: ۱۴۰۰ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ!**

زه خپل دا مونوګراف د الله تعالی دریو سپیڅلو مخلوقاتو (پلار، مور او ښوونکو) او د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو محصلینو، فارغانو او اړونده مسلک مینوالو ته او په ځانګړې توګه پوهنوال محفوظ الله (عارفي) استاد ته، چې د موضوع په انتخاب او جوړښت کې یې راسره همکاري کړې ده؛

ډالۍ کووم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننلیک

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم «لا یشکر الله من لا یشکرالناس» د هر څه دمخه د الله تعالی له مهربانۍ او احسان څخه ډیر شکر اداء کوم، چې په عافیت او کامیابۍ سره یې تر دې دمه راته د زده کړې توفیق راکړ. په دویم قدم کې د دریو سپیڅلو مخلوقاتو څخه نړۍ مننه کووم:

- ✓ هغه څوک چې بې وسه او ناتوانه شول، تر څو مور ورتیا او توانایي ته ورسیږو؛
- ✓ ویښتان یې سپین شول، تر څو زموږ مخونه سپین شي او وځلیږو او
- ✓ په مینه وسوځېدل، تر څو زموږ وجود ګرم کړي او زموږ لاره روښانه شي، چې هغه زموږ پلرونه، میندې او زموږ ښوونکي دي.

د خپل لارښود استاد محترم پوهنوال محفوظ الله (عارفي) څخه ځانګړې مننه کووم، چې د مونوګراف د ترتیب، جوړښت او سمون په برخه کې یې راسره همکاري وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لنډيز**

د ۱۳۹۳ ل کال جزائي اجراآتو قانون د مظنون او متهم حقوقو ته اشاره کړی؛ مګر د مظنون او متهم وجايب يې نه دي ذکر کړي، چې يوه قانوني خلا ده. په نوموړي قانون کې د مظنون او متهم د وجايبو په اړه د وضاحت نشتون له يو خوا د قضاتو، څارنوالانو او مدافع وکيلانو سؤ استفادې ته زمينه مساعده کړې ده او له بل پلوه د حقوقو او سياسي علومو او شرعياتو پوهنځيو محصلين او فارغان د عمل په ډګر کې د مظنون او متهم له وجايبو څخه ناخبره دي. اساسي پوښتنه دا ده، چې آيا مظنون او متهم ته د جزائي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې کوم وجايب راجح کيږي يا نه؟

د څيړنې موندنې ښيي، چې هر کله يو څوک د حقوقو درلودونکي وي، نو په مقابل کې د وجايبو لرونکې هم دي. جزائي اجراآتو قانون کې د مظنون او متهم د وجايبو په هکله د وضاحت نشتون يوه قانوني خلا ده، چې مقننه قوه بايد دغه قانوني خلا رفع کړي او د جزائي اجراآتو قانون کې د مظنون او تورن د حقوقو ترڅنګ د هغوی مکلفيتونه (وجايب) هم ذکر کړي.

همدارنګه، که د حقيقت تثبيت د مظنون يا تورن له همکارۍ پرته ناممکن وي او مظنون يا تورن هم امتناع وکړي، لکه ځان اړينو معايناتو ته نه وړاندې کول، نو د دې دپاره چې مربوطه مسؤلين له ستونزې سره مخ نشي او عدالت په واقعي شکل تأمين شي، په دې اړه بايد قانون جوړونکي د مظنون او تورن د وجايبو تر عنوان لاندې وضاحت ورکړي او له مربوطه مسؤلينو سره په لازمې همکارۍ مکلف وګڼل شي.

په همدې توګه، مظنون او تورن بايد مکلف وګڼل شي، چې د تحقيق په جريان کې يا د قضائي رسيده ګۍ په وخت کې که خپل د اوسېدو ځای ته بدلون ورکوي، نو د محل د تغير په اړه د محل پوليسو ته خبر ورکړي.

په دغه څيړنه کې له کتابتوني ميتود او لومړنيو (قوانين) او ثانوي سرچينو (کتابونو) څخه استفاده شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

سریزه: ........................................................................................ ۱
ستونزه: ........................................................................................ ۱
د موضوع د اختیار لاملونه: ........................................................................ ۱
د موضوع اهمیت: ................................................................................ ۲
د موضوع هدف: ................................................................................. ۲
پوښتنې یا فرضیې: ............................................................................... ۲
تېرو لیکنو ته کتنه: .............................................................................. ۲
څېړنیزه تګلاره: ................................................................................. ۳
لومړی فصل: د مظنون او تورن پېژندنه: ............................................................. ۴
لومړی مبحث: د مظنون او تورن پېژندنه: ............................................................. ۴
لومړی مطلب: د مظنون پېژندنه: .................................................................... ۴
دویم مطلب: د تورن پېژندنه: ....................................................................... ۴
دویم مبحث: د مظنون او تورن توپیر: ................................................................ ۴
دویم فصل: د مظنون او تورن وجایب: ................................................................ ۶
لومړی مبحث: د کشف په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب:.............................................. ۶
لومړی مطلب: د کشف لغوي او اصطلاحي مفاهیم:....................................................... ۶
لومړی جز: د کشف لغوي معنی: ..................................................................... ۶
دویم جز: د کشف اصطلاحي تعریف: ................................................................... ۶
دویم مطلب: د کشف په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب: .............................................. ۶
دویم مبحث: د مظنون او تورن وجایب د تحقیق په مرحله کې: ............................................. ۷
لومړی مطلب: د تحقیق لغوي او اصطلاحي مفاهیم:..................................................... ۷
لومړی جز: د تحقیق لغوي معنی: .................................................................... ۷
دویم جز: د تحقیق اصطلاحي تعریف: ................................................................. ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مطلب: د تحقیق په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب: ..........................................۷
دریم مبحث: د محاکمې په مرحله کې د تورن وجایب: .............................................۹
لومړی مطلب: د محاکمې لغوي او اصطلاحي مفاهیم:...............................................۹
لومړی جز: د محاکمې لغوي معنی:................................................................۹
دویم جز: د محاکمې اصطلاحي تعریف:..........................................................۹
دویم مطلب: د محاکمې په مرحله کې د تورن وجایب:..............................................۹
دریم فصل: د عدلي تعقیب په مختلفو پړاوونو کې د مدافع وکیل وجایب: .......................۱۱
لومړی مبحث: د عدلي تعقیب پیژندنه او د مدافع وکیل وجایب: ..................................۱۱
لومړی مطلب: د عدلي تعقیب پیژندنه: ...........................................................۱۱
لومړی جز: د عدلي تعقیب لغوي معنی: ...........................................................۱۱
دویم جز: د عدلي تعقیب اصطلاحي تعریف: .......................................................۱۱
دویم مبحث: د مدافع وکیل پیژندنه او د هغې وجایب د عدلي تعقیب په مختلفو پړاوونو کې: ........۱۱
لومړی مطلب: د مدافع وکیل پیژندنه: ............................................................۱۱
دویم مطلب: د مدافع وکیل وجایب: ................................................................۱۲
لومړی جز: د مدافع وکیل وجایب د خپل مسلک پر وړاندې:........................................۱۲
دویم جز: د خپل مؤکل پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب: ..........................................۱۳
دریم جز: د قضائي مراجعو پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب: ....................................۱۸
څلورم جز: د نورو وکیلانو او همکارانو پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب: ......................۱۹
پنځم جز: د مدافع وکیلانو د ټولنې پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب: ...........................۲۰
پایله: .............................................................................................۲۲
وړاندیزونه: .......................................................................................۲۳
مأخذونه:.........................................................................................۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د جزائي اجراآتو قانون چې معمولاً جزائي دعوی ته د رسیده گی له پروسیجر (شکلیاتو) څخه بحث کوي، د مظنون او متهم حقوق په کې په څرگنده توگه ذکر شوي دي؛ مگر د مظنون او تورن له وجایبو څخه په کې ښکاره او واضح یادونه نه ده شوې. اساسي پوښتنه دا ده، چې آیا مظنون او تورن ته د جزائي دعوی په مختلفو پړاوونو کې کوم وجایب راجح کېږي یا نه؟
همدارنگه، د مدافع وکیل وجایب د مدافع وکیلانو قانون په ۱۳ ماده کې اجمالي ذکر شوي، مگر په دې لیکنه کې پرې تفصیلي بحث شوی دی. د جزائی اجراآتو په قانون کې د مظنون او تورن د وجایبو په اړه د وضاحت نشتون یوه قانوني خلا ده، چې باید رفع شي د او د مظنون او تورن حقوقو تر څنگ د هغه وجایب هم په واضح توگه ذکر شي؛ تر څو له یوې خوا په ټولنه کې جنائي عدالت په ښه شکل تأمین شي او د قضاتو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو د سؤ استفادې مخنیوی وشي او له بل پلوه د حقوقو او سیاسي علومو او شرعیاتو پوهنځیو محصلین او فارغان په دې وپوهېږي، چې په عمل کې مظنون او تورن ته د جزائي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې کوم وجایب راجح دي او کوم وجایب (مکلفیت) ورته نه دی راجح.

په دې څېړنه کې لومړی د موضوع په اهمیت، هدف او دې ته ورته موضوعاتو رڼا اچول کېږي، بیا موضوع په درې فصلونو کې تر بحث لاندې نیول کېږي، چې په لومړي فصل کې د مظنون او تورن پېژندنه، په دویم فصل کې د جزائي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې د مظنون او تورن وجایب او په درېیم فصل کې د عدلي تعقیب په مختلفو پړاوونو کې د مدافع وکیل وجایب، د شرعي او قانوني دلایلو په رڼا کې څېړل کېږي. په پای کې د موضوع پایله او یو سلسله وړاندیزونه شتون لري.

### ستونزه

د ۱۳۹۳ ل کال جزائي اجراآتو قانون د مظنون او متهم حقوقو ته اشاره کړې او هم لیکوالانو په دې ارتباط لیکنې کړي؛ مگر د مظنون او متهم وجایب نه کوم قانون ذکر کړي او نه په دې ارتباط چا لیکنه کړې، چې دا یوه قانوني خلا ده. بناءً، د دغه قانوني خلا او ستونزې د رفع دپاره مې اړینه وگڼله، چې په دې ارتباط څېړنه او لیکنه وکړم.

### د موضوع د اختیار لاملونه

د محصلی دورې په پیل کې د جزائي اجراآتو قانون له مطالعې څخه راسره دا پوښتنه وه، چې آیا مظنون او تورن د جزائی دعوی په پړاوونو کې کومه وجیبه او مکلفیت لري یا نه؟ ځکه چې په قانون کې یې صرف له حقوقو څخه یادونه شوې ده، مگر له وجایبو څخه یې هیڅ یادونه نه ده کړې، نو اړینه مې وگڼله چې په دې موضوع لیکنه وکړم او اړونده ارگانونه دغه قانوني خلا ته متوجه شي.
همدارنگه، که څه هم د مدافع وکیل وجایب د مدافع وکیلانو په قانون کې ذکر شوي، مگر وضاحت او تفصیل ته اړتیا ده او د دغه وجایبو د وضاحت او په ښه شکل د پوهېدو لپاره مې اړینه وگڼله، چې د مظنون او تورن د وجایبو تر څنگ د مدافع وکیل له وجایبو څخه هم تفصیلي یادونه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع اهميت**

د دغه څېړنې لوستل د حقوقو او سياسي علومو او شرعياتو پوهنځيو محصلينو او فارغانو، څارنوالانو، مدافع وکيلانو او حقوقپوهانو ته ډېر ګټور دي؛ تر څو له يوا حقوقپوهان او قانون جوړونکي دغه قانوني خلا ته متوجه شي او رفع يې کړي او له بل پلوه د حقوقو او سياسي علومو او شرعياتو پوهنځيو محصلين او فارغان پدې وپوهيږي چې مظنون او تورن ته د جزايي دعوې په (کشفي، تحقيقاتي او محاکماتي) پړاوونو کې کوم وجايب راجح دي او کوم وجايب نه دي راجح. همدارنګه، د دغه قانوني خلا په رفع سره به د قاضيانو، څارنوالانو او مدافع وکيلانو د سؤ استفادې مخه هم ونيول شي. په همدې توګه، دوی به په دې هم وپوهيږي چې مدافع وکيل د خپل مسلک، مؤکل، قضايي مراجعو، نورو وکيلانو او همکارانو او د مدافع وکيلانو د ټولنې پر وړاندې د کومو وجايبو دراودونکی دی.

**د موضوع هدف**

په دې موضوع د ليکنې هدف دا دی، چې قانون جوړونکي دغه قانوني خلا ته متوجه شي او رفع يې کړي، تر څو د مربوطه اشخاصو د سؤ استفادې مخه ونيول شي. همدارنګه، د حقوقو او سياسي علومو او شرعياتو پوهنځيو محصلين او فارغان په دې و پوهيږي، چې عملاً مظنون او تورن ته د جزائي دعوې په مختلفو پړاوونو کې کوم وجايب راجح دي او د کومو وجايبو په سرته رسولو مکلف نه دي. په همدې توګه، د مدافع وکيل د وجايبو په هکله به تفصيلي معلومات ترلاسه کړي.

**پوښتنې يا فرضيې:**

اساسي پوښتنه: آيا مظنون او تورن ته د جزائي دعوې په پړاوونو کې کوم وجايب راجح کېږي يا نه؟

فرعي پوښتنې:

١. د مظنون او تورن تر منځ کوم توپيرونه شتون لري؟
٢. مدافع وکيل د خپل مؤکل پر وړاندې د کومو وجايبو لرونکی دی؟
٣. آيا مدافع وکيل د همکار مدافع وکيل ګټې د خپل مؤکل پر ګټو مقدمې ګڼلی شي؟

**تېرو ليکنو ته کتنه**

د دې څېړنې او ليکنې موضوع د جزائي دعوې په مختلفو پړاوونو کې د مظنون، تورن او مدافع وکيل وجايب دي، نو د تېرو ليکنو په ارتباط په لنډ ډول ويلی شو، چې د مظنون او تورن د حقوقو په اړه هم قانون کې توضيح شته او هم پرې ليکنې شوې دي؛ مګر متأسفانه د وجايبو په هکله يې نه قانون کې خاصه توضيح شته او نه پرې چا ليکنه کړې ده، په خاصه توګه پښتو ژبه کې په دې هکله هيڅ ليکنه نشته دی. د مظنون او تورن د وجايبو په اړه د عبدالقيوم نظامی (اصول اِجراآت و محاکِمات جزائی) کتاب کې اشاره شوې ده، چې په فارسی ژبه ليکل شوی دی. همدارنګه، د مدافع وکيل له وجايبو څخه هم د مدافع وکيلانو قانون يادونه کړې ده او هم په ځينو کتابونو کې ذکر شوي دي؛ مګر په کوم ډول چې دې ليکنه کې تفصيل او توضيح شوي، په پښتو ژبه کې داسې تفصيل نشته او دغه تفصيل له فارسی کتاب څخه اخيستل شوی. د دغه مونوګراف په ليکلو کې د هېواد له نافذه قوانينو او علمي کتابونو څخه استفاده شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څېړنيزه تګلاره**

په دې څېړنه کې له کتابتوني ميتود څخه استفاده شوې ده، چې د هدف له حيثه تحليلي، د تطبيق له حيثه عملي (تطبيقي) او د روش له حيثه کيفي څېړنه ده. د جزائي دعوې په مختلفو پړاوونو کې مو د مظنون او تورن وجايب د قوانينو له حيثه څېړلي او بيا مو د مدافع وکيل وجايب د عدلي تعقيب په پړاوونو کې د مربوطه اشخاصو او مراجعو پر وړاندې د قوانينو په رڼا کې څېړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

## د مظنون او تورن پېژندنه

مخکې له دې چې د جزائي دعوې په مختلفو پړاوونو کې د مظنون او تورن په وجايبو بحث وکړو، غوره به وي چې لومړی مظنون او تورن وپېژنو؛ تر څو مظنون او تورن سره خلط (ګډ) نکړو.

### لومړی مبحث: د مظنون او تورن پېژندنه

د مظنون او تورن د ښه پېژندلو لپاره به لومړی مظنون او دویم قدم کې تورن د جزائي اجراآتو قانون له مخې تعریف او بیا به د دوی ترمنځ عمده توپیرونه واضح کړو.

#### لومړی مطلب: د مظنون پېژندنه

د جزائي اجراآتو قانون د ۴ مادې ۱۱ فقره د مظنون په اړه داسې صراحت لري: "مظنون هغه شخص دی چې د جرم د ارتکاب په نسبت د بدګمانۍ (سؤظن) پر بنسټ تر اشتباه لاندې راغلی وي یا دا چې هغه ته د تور (اتهام) له نسبت ورکولو دمخه، دده په هکله احتیاطي تدبیرونه نیول شوي وي."[1]

#### دویم مطلب: د تورن پېژندنه

د تورن په اړه د جزائي اجراآتو قانون د ۴ مادې ۱۳ فقره دا ډول صراحت لري: "متهم (تورن) هغه شخص دی چې د تحقیق پر وخت د اثبات د راټولو شوو دلایلو د ارزونې په بناء، د جرم د مرتکب په توګه تشخیص او تور پرې لګېدلی وي."[2]

### دویم مبحث: د مظنون او تورن توپیر

د مظنون او تورن د تعریف له مخې چې د جزائي اجراآتو قانون د ۴ مادې ۱۱ او ۱۳ فقرو کې په پوره توګه صراحت ذکر شوی دی د مظنون او تورن ترمنځ عمده توپیر په دې کې دی، چې د مظنون والي اِسناد یو شخص ته مخکې د اتهام د نسبت ورکولو څخه دی او متهم (تورن) ته وروسته د اتهام د نسبت ورکولو څخه. هغه څه چې په دې تعریف کې اجمالي دي، هغه د (اتهام) اصطلاح ده، چې آیا دغه اصطلاح د اتهام لیک مربوط ده که د صورت دعوې؟

د مظنون او متهم د تفکیک لپاره باید د اتهام لیک او صورت دعوې تعریف ته مراجعه وکړو:

**اتهام لیک:** هغه لیکلی سند دی چې د تحقیق په پایله کې د اړوند څارنوال لخوا، په پاڼو کې درج د جرم د اثبات د دلایلو په یادولو او د قانون د موادو په یادولو سره چې جرم او جزاء یې ټاکلې ده، ترتیب او په ضمن کې یې د مظنون د محاکمې غوښتنه کېږي.[3]

**صورت دعوی:** هغه لیکلی سند دی چې په ترڅ (ضمن) کې یې څارنوال د ارتکاب شوي جرم د ډول، د تورن د اهلیت او خصوصیاتو او جزایي مسؤولیت، د اثبات د دلایلو او د قانون د هغو موادو چې جرم او جزاء یې ټاکلې، په یادولو سره له واکمنې محکمې څخه د تورن مجازات غواړي.[4]

---

[1]. د جزائي اجراآتو قانون (۱۳۹۳ ل). ۱۱۳۲ رسمي جریده، ۴ ماده (۱۱).

[2]. هماغه. ۴ ماده، (۱۳).

[3]. هماغه. ۴ ماده، (۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې د دغو دوو اصطلاحګانو د تعریف څخه معلومیږي، د تحقیق څارنوال لخوا د اتهام لیک د ترتیب تر مرحلې، شخص ته د مظنون خطاب کیږي او کله چې د تعقیب څارنوال صورت دعوی ترتیبوي، شخص له مظنون والي څخه متهم ته تغیر کوي.

د مظنون او متهم ترمنځ د توپیر د لا ډیر وضاحت لپاره باید مظنون او متهم دا ډول تعریف شي:

**مظنون:** هغه شخص دی چې د جرم د ارتکاب په نسبت د بدګمانی (سؤظن) په بنسټ تر اشتباه لاندې راغلی وي یا د هغه پر وړاندې اتهام لیک ترتیب شوی وي.

**متهم (تورن):** هغه شخص دی چې د هغه پر وړاندې صورت دعوی ترتیب شوي وي او د اړوند څارنوال لخوا د قانون د احکامو مطابق د هغه پر وړاندې صورت دعوی اقامه شوي وي.[5]

. هماغه. ۴ ماده، (۱۵).[4]
(۷ دلوه ۱۳۹۸ ل). تفتوت میان مظنون و متهم، ۲ قوس ۱۳۹۹ ل. ggerblo.
[5]. http://hoshagmudaser.blogspot.com/2019/10/blog-post.html?=1.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل

## د مظنون او تورن وجایب

### لومړی مبحث: د کشف په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب

مخکې له دې چې د کشف په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب ذکر کړو، اړینه ده چې د کشف لغوي او اصطلاحي مفهوم سره آشنا شوو.

### لومړی مطلب: د کشف لغوي او اصطلاحي مفاهیم

د کشف د معنی او مفهوم د ښه روښانه کېدو لپاره غوره به دا وي، چې لومړی د کشف لغوي معنی او بیا د کشف اصطلاحي معنی او مفهوم مطالعه کړو.

### لومړی جز: د کشف لغوي معنی

کشف یوه عربي کلمه ده چې له لفظي او لغوي پلوه د یو پټ شي ښکاره کولو، برملا کولو، څرګندولو یا د یو پټ شي له مخه د پردې لیرې کولو په معنی ده.[6]

### دویم جز: د کشف اصطلاحي تعریف

د جزائي اجراآتو قانون ۴ مادې ۱ فقرې کشف دا ډول تعریف کړی دی " د جرم کشف: هغه اجراآت دي، چې د جرم له ارتکاب څخه د مخنیوي او د هغه د مرتکب د تشخیص، د ارتکاب د ډول او علت، د ځای د تثبیت او په ارتکاب شوي جرم پورې د اړوندو آثارو او شیانو د ساتنې په منظور صورت مومي."[7]

### دویم مطلب: د کشف په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب

د کشف د پورته لغوي او اصطلاحي تعریف څخه څرګندېږي، چې مظنون یا تورن ته د کشف په مرحله کې هیڅ نوعه وجیبه نه راجح کېږي. همدارنګه، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی، چې "كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطرَةِ." دا صحیح حدیث دی او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی او دا په دې دلیل دی، چې هر انسان له فطرت نه په دې اقرار کوي چې الله تعالی یې خالق دی. یعنې انسان له فطرت نه په الله تعالی مؤمن (بې ګناه) پیدا کېږي. په همدې توګه، په دې ارتباط فقهي قاعده ده، چې "البینه للمدعي و الیمین علی من أنکره (۷۶)." ژباړه: مدعي لره دلیل او منکر لره یمین (لوړه) ده. یعنې چې کله دعوی شوه، دلایل به مدعي (ځارنوال) راوړي او په مدعي علیه (تورن) یا منکر لره قسم کول دي.[8]

همدارنګه، د ذمې برائت اصلي حالت دی، چې د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۲۵ ماده په دې اړه داسې صراحت لري "د ذمې برائت اصلي حالت دی. تر هغې چې د با صلاحیته محکمې په قطعي

---

6. حفیظ الله دانش (۱۳۹۸ ل). د جزائي محاکماتو اصول، ژباړن: بصیر احمد کوچی، اول ټوک، دوهم چاپ، جلال آباد، مستقبل خپرندویه ټولنه، ۵۹ م.
7. هماغه. جزائي اجراآتو قانون، ۴ ماده، (۱).
8. برکت الله تائب (۱۳۹۶ ل). فقهي قواعد، جلال آباد، حکمت خپرندویه ټولنه، ۱۸۸ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم متهم محکوم علیه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کیږي."[9] په همدې ډول، د جزا کود هم په ۵ ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري "برائت ذمه: برائت ذمه اصلي حالت دی. شخص تر هغه وخته پورې چې د واکمنې محکمې په قطعي حکم محکوم علیه ګڼل شوی نه وي، بې ګناه پېژندل کیږي."[10] بناءً، د پورته دلایلو په اساس ویلای شو چې مظنون یا تورن ته هیڅ نوع وجیبه نه راجح کیږي.

**دویم مبحث: د مظنون او تورن وجایب د تحقیق په مرحله کې**

مخکې لدې چې د تحقیق په مرحله کې د مظنون او تورن په وجایبو بحث وکړو، بهتره به وي چې لومړی د تحقیق له لغوي او اصطلاحي مفهوم سره آشنا شوو.

**لومړی مطلب: د تحقیق لغوي او اصطلاحي مفاهیم**

د تحقیق د معنی او مفهوم د ښه وضاحت دپاره، ښه به وي چې لومړی د تحقیق په لغوي معنی او بیا د تحقیق په اصطلاحي معنی او مفهوم بحث وکړو.

**لومړی جز: د تحقیق لغوي معنی**

تحقیق له لفظي او لغوي پلوه د حقیقت پیدا کول یا حقیقت ته ځان رسول، تفتیش او څېړنه کول، په سمه توګه پوهیدل او داسې نورو په معنی ده.[11]

**دویم جز: د تحقیق اصطلاحي تعریف**

له اصطلاحي پلوه تحقیق د حقیقت معلومولو په پار د یوې موضوع ژورې او کره څېړنې ته ویل کیږي.[12] همدارنګه، د جزائي اجراآتو قانون ۴ مادې ۴ فقرې تحقیق دا ډول تعریف کړی دی: "د جرم تحقیق: د قانون د حکمونو په حدودو کې د څارنوال پواسطه، د راټولو شوو دلایلو پر بنسټ له تورن څخه د استنطاق او استجواب، د شهودو او ناظرینو د بیانونو او اظهاراتو د اورېدلو، د جرم د پېښېدو یا نه پېښېدو د تثبیت په منظور د راټولو شوو دلایلو د ارزونې، د مرتکب د پېژندلو او تورن ته د تور د انتسابولو له لارې د جرمي واقعې هر اړخیزه څېړنه ده."[13]

**دویم مطلب: د تحقیق په مرحله کې د مظنون او تورن وجایب**

مظنون د تحقیق په مرحله کې د قضیې د تحقیق په تکمیلولو کې ډېر اساسي او بنیادي رول لري. کله چې مظنون یا تورن په دغه مرحله کې خپل وجایب (مکلفیتونه) په سم ډول تر سره نه کړي، د تحقیق پروسه له برخورد او ننګونې سره مخامخ کیږي. یا هم د قضیې د پیچلې کیدو او د تحقیق د سربسته کیدو باعث ګرځي، چې دا حالت هم د مظنون په نقصان باندې تمامیږي.

مظنون یا تورن د کشف او تحقیق په مرحله کې لاندې وجایبو لرونکي دي:

---

[9]. د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ ل). ۸۱۸ رسمي جریده، ۲۵ ماده.
[10]. د جزا کود (۱۳۹۶ ل). ۱۲۶۰ رسمي جریده، ۵ ماده.
[11]. لغت نامه دهخدا.
[12]. (۶) کښه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. حفیظ الله دانش، ۹۰ م.
[13]. (۱) کښه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. جزائي اجراآتو قانون، ۴ ماده، (۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

1) **د پولیسو غوښتنې او د څارنوالۍ ادارې ته حاضریدل:** مظنون مکلف دی چې د کشفي ارګانونو غوښتنې (جلب) او څارنوالۍ ته حاضر شي. که مظنون یادو ارګانونو ته حاضر نشي او پرته له کوم عذره په ټاکلي وخت کې د راتګ څخه امتناع وکړي، محکمه او څارنوالي کولي شي پولیسو ته د اجباري احضار حکم وکړي. پدې اړه د جزايي اجراآتو قانون ۹۷ ماده کې داسې راغلي دي: "که چیرې مطلوب شخص د مؤجه عذر له لرلو پرته د احضار له امر څخه سرغړونه وکړي یا په روښانه قرائنو سره د هغه د اخفاء (پټېدو) یا تېښتې وېره مدلله وي او یا د هغه آزادي د جرمي اثارو او علایمو د ضایع کیدو باعث شي او یا په پام وړ حوزه کې د اوسېدلو ټاکلی ځای ونلري، د څارنوال یا محکمې له خوا د احوالو سره سم، د هغه د نیونې امر صادر او یا پولیس پدې قانون کې د درج شوو حکمونو پر بنسټ د هغه په نیولو لاس پورې کوي".[14]

2) **د حقیقت د تثبیتولو او تأمین مکلفیت:** شک نشته چې د دعوې اثبات او دلایلو جمع واري د ثبوت لپاره په مظنون باندې هیڅ مکلفیت نه راجع کیږي؛ مګر کله چې د کشفي ارګانونو مسؤلینو د دلایلو جمع اورې د مظنون د همکارۍ نه پرته باطل وي، نو دغه شخص مکلف دی چې همکاري وکړي. مثلاً کله چې علایم او اثار د عدلي طب له نظره د مظنون د بدن سره موافقیت ولري، نو دا مکلف دی چې خپل ځان د طب عدلي معایناتو ته وړاندې کړي؛ مګر دا چې دغه معاینات د هغه د جسمي او روحي صدمې باعث وګرځي. همدارنګه، مظنون مکلف دی چې د کشف مسؤل او یا هم څارنوال د هدایت په اساس د خط نمونه او یا نورې نمونې چې د اهل خبره وو معایناتو د دقیقې مقایسې په غرض ضروري دي، د مسؤل مامور په اختیار کې ورکړي. دغه مکلفیت په اړه د جزايي اجراآتو قانون کوم واضح ډول صراحت نلري، مګر په ۴۹ ماده کې بیا داسې راغلي دي:

"(۱) د قضايي ضبط مامور، څارنوالۍ او محکمه کولای شي، د جنایت یا جنحې د ارتکاب په صورت کې مظنون، متهم او یا مجني علیه د عدلي طبي کتنو د سرته رسیدو لپاره واکمنې مرجع ته معرفي او ګوتې نښې، وینه، ویښتان او نور مدارک چې د پېښې په ځای کې تر لاسه شوي دي، اړوندې ادارې ته وړاندې کړي.

(۲) د دې مادې ۱ فقره کې درج شوي اشخاصو کتنې د هم جنسه اهل خبره په واسطه صورت مومي."[15]

د دې مادې له مخې چې مظنون باید ځان لازمو معایناتو ته وړاندې کړي، د مکلفیت استنباط نشي کیدای، نو په همدې لحاظ د همکارۍ څخه د مظنون امتناع او ځان معایناتو ته نه وړاندې کولو پر مبنی، مربوطه مسؤلین د قانون د حکم له مخې د جدي چالش او برخورد سره مخامخ کیږي.

نو د مظنون دغه مکلفیت په قانون کې په صریحه ډول ندی ذکر شوی، نو دغه مکلفیت باید روښانه شوی وای. او ځینو مواردو کې هم په قانون کې احکام پیش بیني شوي نه دي، مثلاً کله چې مظنون په تکراري ډول د ځیرنې پړاو د قصدي اعمالو په واسطه له برخورد (ګډوډۍ) سره مخامخ کړي، نو د جزائي اجراآتو قانون د دې لپاره چې مسؤلین وکولی شي دغه حالت رفع او مشکل حل کړي او مظنون دغه حالت څخه خود دارۍ ته واداره کړي، نو

---

14. هماغه. ۹۷ ماده.
15. هماغه. ۴۹ ماده، (۱) او (۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره کوم صراحت شتون نلري. نو بیا باید دلته صراحت شتون درلودلی او د دغه عمل اړوند موضوعات پکې بیان شوي وای.
بله مهمه ننګوونه چې دافغانستان په عدلي او قضایي بنسټونو کې موجوده ده هغه دا ده، چې کله مظنون تر توقیف لاندې رانشي او یا هم د ضمانت په واسطه خوشې شي نو په اسانۍ سره خپل اقامت محل تغیروي او بیا د هغه پیدا کول ستونزمن کیږي، نو فلهذا دا ضروري ده تر څو د جزایي اجراآتو قانون کې مظنون اومتهم مکلف وګڼل شي، چې ترڅو د تحقیق په جریان کې او یا د قضایي رسیده ګۍ په وخت کې د محل د تغیر په اړه د محل پولیسو ته خبر ورکړي.[16]

**درېیم مبحث: د محاکمې په مرحله کې د تورن وجایب**

مخکې لدې چې د محاکمې په مرحله کې د تورن په وجایبو بحث وکړو، اړینه ده چې لومړی د محاکمې له لغوي او اصطلاحي مفهوم سره آشنا شوو.

**لومړی مطلب: د محاکمې لغوي او اصطلاحي مفاهیم**

د دې دپاره چې د محاکمې د معنی او مفهوم سره ښه آشنا شوو، بهتره په وي چې لومړی د محاکمې په لغوي معنی او مفهوم او بیا د محاکمې په اصطلاحي معنی او مفهوم رڼا واچوو.

**لومړی جز: د محاکمې لغوي معنی**

محاکمه له لفظي او لغوي پلوه ترافع، مرافعهٔ، عدالت، پوښتنې کول، محکمې ته تلل او دعوی اقامه کول او داسې نورو په معنی ده.[17]

**دویم جز: د محاکمې اصطلاحي تعریف**

دعوی ته رسیده ګي، د دعوی دفع او د حکم صادرېدل دي، چې د واکمنې محکمې لخوا د قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.[18]

**دویم مطلب: د محاکمې په مرحله کې د تورن وجایب**

متهم (تورن) د قضایي رسیده ګۍ په جریان کې د لاندې وجایبو لرونکی دی:

1. **د محکمې جلب (غوښتنې) ته حاضریدل:** لکه څرنګه چې متهم د دعوی یو طرف ګڼل کیږي د هغه غیاب کې د جلسې مخکې وړل، د دعوې له فلسفې او کُلي اصولو سره منافي دي. نو په همدې اساس د جزایي اجراآتو قانون محکمه مکلفه کړی ده، چې د دعوې دواړو طرفینو حضور تضمین کړي او هم یې د دعوې طرفین مکلف کړي دی. پدې اړه د جزایي اجراآتو قانون ۲۰۶ماده داسې صراحت لري: "محکمه د تورن، د مجني علیه د مدافع وکیل، د حق

[16]. عبدالقیوم نظامی (-----). اصول اجراآت و محاکمات جزایی، جلد اول، ۲۴۳ م.
[17]. لغت نامه دهخدا.
[18]. (۱) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د جزایی اجراآتو قانون، ۴ ماده، (۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

العبد د مدعي، د حق العبد مسؤل او نورو هغه اشخاصو چې حضور يې په قضايي جلسه کې اړين او ګټور وي، حضور غواړي".[19]

همدارنګه، د دغه قانون ۲۰۹ مادې دوهمه فقره کې داسې صراحت شتون لري: "که چيرې تورن د جنحې او جنايت جرمونو کې د حضور د خبرتيا د ترلاسه کولو با وجود په ټاکلي نيټه قضايي غونډې ته حاضر نشي، محکمه د قضيې څيړنه ځنډوي او د هغه د حاضرولو امر يا د نيولو امر صادروي. د نه حضور په صورت کې دويم ځل لپاره موضوع اعلانيږي او په هغه صورت کې چې داعلان شوي مودې په صورت کې حاضر نشي، د هغه لپاره حقوقي مساعد ټاکل کيږي او محکمه خپل حکم صادروي".[20]

د قضايي جلسې دايرول د متهم مدافع وکيل په شتون کې د عادلانه محاکمې لپاره اساسي شرط ګڼل کيږي، دغه کار د متهم موجوديت په قضايي پروسه کې د محاکمې عادلانه والي تضمينوي. متهم (تورن) په فعال دفاع سره د دې زمينه مساعدوي چې په شفاف ډول قضيې ته رسيده ګي مخکې يوړل شي.

2. **د قضايي جلسې نظم رعايتول:** د جزائي اجراآتو قانون خاص شکليات د قضايي جلسې مخکې بيولو لپاره پيش بيني کړي دي او د دعوې طرفين او نور ټول اشخاص يې د قضايي جلسې د نظم په رعايت باندې مکلف کړي دي. پدې اړه د جزايي اجراتو قانون ۲۲۳ ماده داسې صراحت لري: "که چيرې تورن په قضايي غونډه کې د څيړنې په وخت کې، نظم ګډوډ کړي يا د غونډې د رئيس له اوامرو څخه اطاعت ونکړي، رئيس هغه ته اخطار ورکوي، د تکرار په صورت کې، هغه د قضايي غونډې له خونې څخه وباسي او له بيا حضور وروسته له هغو اجراآتو څخه چې په غياب کې صورت موندلی، هغه خبروي".[21]

تورن مکلف دی چې د مدافع وکيل يې نيولی وي د هغه نوم د قضايی ضبط مامور ته ووايي. مدافع وکيل هم کولی شي چې خپل نوم د تورن د مدافع وکيل په حيث د قضايی ضبط مامور ته معرفي کړي.[22]

---

[19] . هماغه. ۲۰۶ ماده.

[20] . هماغه. ۲۰۹ ماده، (۲).

[21] . هماغه. ۲۲۳ ماده.

[22] . (۱۶) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. عبدالقيوم نظامي، ۲۴۵ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېيم فصل

## د عدلي تعقيب په مختلفو پړاوونو کې د مدافع وکيل وجايب

### لومړی مبحث: د عدلي تعقيب پېژندنه او د مدافع وکيل وجايب

په دغه موضوع د لا ښه پوهېدو دپاره اړينه ده، چې لومړی د عدلي تعقيب له معنی او مفهوم سره آشنا شوو او دويم قدم کې د مدافع وکيل وجايب تر بحث لاندې ونيسو.

### لومړی مطلب: د عدلي تعقيب پېژندنه

د عدلي تعقيب د معنی او مفهوم د ښه وضاحت دپاره، ښه به وي چې لومړی د عدلي تعقيب په لغوي معنی او بيا د عدلي تعقيب په اصطلاحي معنی او مفهوم بحث وکړو.

#### لومړی جز: د عدلي تعقيب لغوي معنی

د عدلي تعقيب اصطلاح له دوه کلمو څخه ترکيب شوی، عدلي عربي الاصله کلمه ده، له عدل څخه اخيستل شوې او عدل د سم، دقيق او انصاف په معنا دی او عدلي د عدالت پلي کوونکی ارګان دی او تعقيب فارسی کلمه ده، چې د څارلو، تحقيق کولو او تعقيب کولو يا د قانون پلي کوونکو يا قضائي چارواکو لخوا د چا تعقيب او لټون ته تعقيب وايي يعني عدلي تعقيب په لغت کې د عدالت يا قانون تطبيق کوونکي يا قضائي چارواکو له خوا د چا تعقيب او لټون دی د جنائي عدالت د تأمين په موخه.[23]

#### دويم جز: د عدلي تعقيب اصطلاحي تعريف

د جزائي اجراآتو قانون ۴ مادې ۳۴ فقره د عدلي تعقيب په اړه داسې صراحت لري: "عدلي تعقيب د جرمي پېښې او د هغې د مرتکب تعقيبول دي، چې د کشف اجراآت او د جرم تحقيق، محاکمه او د حکم تنفيذ پکې شاملېږي."[24]

### دويم مبحث: د مدافع وکيل پېژندنه او د هغې وجايب د عدلي تعقيب په مختلفو پړاوونو کې

په پورته موضوع د لا ښه پوهېدو لپاره اړينه ده چې لومړی په دې وپوهېږو، چې مدافع وکيل څوک دی؟ او په دويم قدم کې د مدافع وکيل په وجايبو بحث وکړو، چې مدافع وکيل د اړونده ادارو او اشخاصو پر وړاندې د کومو وجايبو درلودونکي دی؟

### لومړی مطلب: د مدافع وکيل پېژندنه

د ۱۳۸۶ ل کال د مدافع وکيلانو قانون ۵ ماده ۱ فقره د مدافع وکيل په اړه داسې صراحت لري "مدافع وکيل هغه شخص دی، چې د مدافع وکيلانو په فهرست کې شامل وي، د قانون د حکمونو مطابق د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤکل له حق څخه دفاع يا دعوی اقامه کوي."[25]

---

[23]. فرهنګ فارسی معين.

[24]. هماغه. د جزائي اجراآتو قانون، ۴ ماده، (۳۴).

[25]. د مدافع وکيلانو قانون (۱۳۸۶ ل). ۹۳۴ رسمي جريده، ۵ ماده، (۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم مطلب: د مدافع وکیل وجایب**

د مدافع وکیل په وجایبو د ښه پوهېدو لپاره به د نوموړي وجایب د اړونده بېلابېلو ارګانونو او اشخاصو پر وړاندې په جلا جلا جزونو کې تر بحث لاندې ونیسو.

**لومړی جز: د مدافع وکیل وجایب د خپل مسلک پر وړاندې (د مسلک وقار او عزت ساتل)**

د وکالت غوره هدف، د هغې تاریخي شالید ته په پام سره، د قضاء په اداره کې له عدالت سره همکاري کول دي او د قانوني لارو په کارولو سره مظلوم او زیانمنو سره د خپلو حقونو په تحقق کې مرسته کول دي. هغه تعبیر چې د دې مسلک ایډیالیستانو وکالت د عدالت د پربښتې له دوه وزرونو څخه د یوې په توګه یاد کړی دی، په حقیقت کې د دې دندې له خاوندانو څخه د ټولنې تمه په ګوته کوي. واقعیت دا دی، چې په ټولنه کې د عدالت له اجراء سره د دفاع وکالت نږدې اړیکه د دې باعث شوی؛ تر څو مدافع وکیل په ټولنه کې په قانون او اخلاقو پورې د یو مقید فرد په حیث مطرح شي. په ټولنه کې د وکیل په اړه د دغه ډول نظر پایله به دا وي، چې د هغه اخلاقي او قانوني تېروتنې د بښنې وړ نه وي او حتی په ځینو مواردو کې هغه اعمال چې ټولنه یې نورو ته مباح ګڼي، د هغې ارتکاب د مدافع وکیل په واسطه د ملامتۍ وړ ګڼي.[26]

د مدافع وکیل یو له بنسټیزو اخلاقو څخه چې مدافع وکیل یې باید همېشه رعایت کړي، هغه د خپل مسلک د عزت او حرمت ساتنه ده. د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند د ډول په هکله د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د اساسنامې (۱) ګڼه ضمیمې ۲۵ ماده دا ډول صراحت لري: ”مدافع وکیل د دفاع په ټولو چارو کې د اجراآتو او د مشورې په وړاندې کولو کې، د خپل مسلک د عزت او حرمت په ساتلو مکلف دی.“[27]

که دا ومنو او منلې مو هم ده، چې مدافع وکیل او قاضي د عدالت د پربښتې دوه وزرې دي او د دواړو اقدامات یو د بل تکمیلونکي دي او د دواړو هدف د حقیقت ترلاسه کول او د عدالت تأمین دی او دواړه لوړ مقام او حیثیت لري او هر یو په خپل حالت کې ځانګړی ټولنیز حیثیت او وقار لري او هیڅ یو پر بل لوړ نه دی، مګر د تقوا او علم له حیثه، چې د ټولو انسانانو د اندازه کولو وسیله ده او په دې دوو مسلکونو پورې محدوده نه ده. په ناچارۍ سره دا باید ومنو چې د وکیل تر ټولو ناوړه عمل ممکن چې تر سره یې کړي دا دی، چې د دفاع په مقام کې د علمي او فني، شکلي او ماهوي مسایلو پر ځای د قاضي موقف د مدافع وکیل سره پرتله کړي او د ملاتړ د راجلبولو هڅه وکړي.[28]

وکیل باید د مؤکل پر وړاندې خپله مسلکي خپلواکي وساتي او باید په هیڅ حالت کې د مؤکل د هیلو سره سم یا د هغه د ګټو د تأمین لپاره داسې عمل ونه کړي، چې د وکیل د عزت او صداقت سره په ټکر کې وي.

---

[26] . احد الله عظیمی و دیگر (۱۳۹۶ ش). مباحث عمومي وکالت دفاع برای کلنیک های حقوقی بنیاد، کابل، شرکت چاپی و تبلیغاتی مارک، ۲۴،۲۵ م م.

[27] . د مدافع وکیلانو د سلوک او د چلند د ډول په هکله د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د اساسنامې (۱) ګڼه ضمیمه (----). ۲۵ ماده.

[28] . هماغه. احد الله عظیمی، ۲۵ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم جز: د خپل مؤکل پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب**

په حقیقت کې مدافع وکیل پراخ مسئولیتونه لري چې ډیر یې د مؤکل پورې تړلي دي؛ ځکه همدا مؤکل دی چې وکیل یې د خپلو شخصي او ځانګړو کړنو لپاره امین او د راز شخص ګرځولی دی، او د هغه نه غواړي چې ټول کارونه یې په سمه توګه ترسره شي، او کوښښ وکړي چې هغه مطلوبه نتیجې لاسته راوړل شي چې مؤکل یې هیله لري؛ چې په لنډه توګه ورته اشاره کوم:

**لومړۍ برخه- د مؤکل پر وړاندې د وکیل ریښتینولي او صداقت**

مدافع وکیل باید خپله دنده په سمه توګه، اخلاص، نیکه کړنه او پاکۍ سره سرته ورسوي او په هیڅ صورت هغه د دوکې، چل او درغلۍ په کړنو کې ګډون و نه لري، د کار په هر ډګر کې یې وینا او کړنه په ریښتینولۍ ولاړه وي، دا یو اخلاقي او دیني مکلفیت دی چې د هغې څخه مخالفت ګناه ګڼل کیږي، د دغه ارزښتونو تأثیر په وجدان کې دومره ژورې ریښې لري چې آن د ټولنې یو عادي وګړی هم د دې انتظار باسي چې نور ورسره په ریښتینولۍ چلند وکړي، خو دغه خوي د وکالت په مسلک کې ډیر اړین دی؛ ځکه چې مؤکل د خپل وکیل په ریښتیولۍ او امانتدارۍ باندې پوره باور لري، په ځانګړې توګه په هغو حالاتو کې چې حقیقتونه د مخاصمو استدلالونو له ټکر څخه منځته راشي، د وکیل صداقت د پوښتنې لاندې راځي، ځکه کله چې وکیل د خپلې تجربې او کارپوهنې په اساس د دواړو خواوو څخه د استازیتوب منلو ته چمتو شی، نو دغه وخت کې د خلکو شک او وهم زیاتیږي او دا فکر کیږي چې وکیل د یو لوبغاړي په څیر کړنه کوي، شک لرې. د دې لپاره چې له سوچ او فکر څخه ځان وساتي، وکیل باید وکالت د منلو څخه مخکې د یو بې طرفه قاضي په څیر پرته له تعصبه د حقایقو په لټه کې شي، ځکه مؤکلین د معمول مطابق په حقایقو باور لري، نو وکیل ته پکار ده چې د هغه کړنو څخه ځان وساتي چې ریښتینولي یې د سوال لاندې راځي. وکیل پرته له دې چې د مؤکل په څرګندونو کې د هغه د باور د نشتوالي کومه اغېزه ښکاره نه کړی، په خپلو ځوابونو کې حقیقت روښانه کوي او د بل پلوه چې مؤکلین د حقوقي معلوماتو څخه برخمن نه وي، او د څیړنې او قضیې په اړینو نکاتو یې سر نه خلاصیږي؛ هماغه نظر ته ارزښت ورکوي چې دوی فکر کوي، ګټه ورته رسوي، له همدې امله وکیل باید د حقیقت څرګندولو په وخت کې د خپلو مؤکلینو د برداشت په پرتله محتاط اوسي.[29]

دا خبره ثابته ده چې د مؤکل له لورې چې کوم معلومات او اسناد وکیل ته وړاندې کیږي، او یا هغه مطالب چې د پیښې په وخت او ځای کې ترسره شوي او یا هغه موارد چې هیڅ په دعوه کې نه وي، ځکه د وکیل لاس رسی ورته معلوماتو ته ستونزمن وي او کله چې د وکیل په خبرو کې ګډوډي او تردید راشي نو دغه کړنه به یې مؤکل د هغه په اړه شکمن کړي، نو وکیل ته په کار دي چې په ټولو معلوماتو ځان خبر کړي.

د قرارداد اړوند د مسایلو څیړنه، د پلې کیدو ځای، د دعوی لوري په اړه معلومات ترلاسه کول د وکیل د دندو څخه دي؛ له دې مخکې چې وکالت ومني د تحقیق له لارې د مؤکل څخه لازم معلومات ترلاسه کړي، ځکه ورته مسایل چې حقوق پوهان نه وي د هغوی د توان څخه لېرې خبره ده چې د مؤکل د معلوماتو څخه ځانته خام مواد ترلاسه کړي، د دې څیړنې اړتیا له دې څخه رامینځته کیږي

[29]. هماغه. احد الله عظیمی، ۲۶ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وکیل دنده لري چې د هر قانوني اقدام دمخه د قضیې د پرمختګ یا ځنډ په اړه مؤکل ته خبر ورکړي او د هغه د محکومیت اغیزې په تفصیل سره خپل مؤکل ته روښانه کړي، د مدافع وکیلانو قانون (۱۳) مادې (۲) فقره کې داسې ټینګار شوی دی: "وکیل مدافع د لاندې وجیبو لرونکی دی: ۲- په رېښتینولۍ او ایمانداری او د اشخاصو حیثیت ته په درناوۍ سره د وکالت د چارو اجرا کول..."[30] همدارنګه، د افغانستان د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامه (۱) ضمیمه (۱۸) ماده کې د مدافع وکیلانو د سلوک او رویې په هکله داسې ټینګار شوی دی: "مدافع وکیل مکلف دی، خپلې دندې په سمه توګه او پر وخت سرته ورسوي او هغه قضیې چې په سرته رسولو یې قادر نه وي، و نه مني".[31] همدارنګه، د یادې ضمیمې (۱۵) ماده مؤکل ته د حقوقي مشورې د ورکړې په اړه داسې ټینګار کړی دی: "مدافع وکیل دنده لري خپل مؤکل ته، چې د مشورې وړاندې کولو غوښتونکی وي خپل نظر په رېښتینې توګه د مسلکي تجربو او پوهې او نافذه قوانینو سره سم، ورکړي".[32]

د دې هر څه نه مخکې د مدافع وکیلانو قانون (۱۶) ماده کې کله چې مدافع وکیل قسم متن ته دقیق نظر وشي، نو د وکیل دندې او ځانګړتیاوې په کې روښانه شوي: "بسم الله الرحمن الرحیم، د الله تعالی په نوم سوګند یادوم، چې د دفاع وکالت شغل په امانت او رېښتینولۍ سره اداء او اسرار یې وساتم، د اسلام د سپیڅلي دین، اساسي قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د ټولو نافذه تقنیني سندونو حکمونه په پام کې نیسم او درناوی یې کوم او خپل مؤکل ته خیانت نه کوم".[33]

په پورته د قوانینو ټولو مادو ته وکتل شي په دې خبره ټینګار شوی چې مدافع وکیل باید رېښتونی وي او خپل مؤکل سره به خیانت نه کوي او نه به ورسره چل کوي، نو له همدې کبله مدافع وکیل باید د قضیې او دعوی پرمختګ په رېښتینې توګه خپل مؤکل ته روښانه کړي، ځکه که چیرې مؤکل د خپل وکیل د خبرو پر اساس ډاډمن وي چې مطلوبه پایله به د خپلې دعوې لپاره ترلاسه نه کړي، نو هیڅکله به هم دې ته چمتو نه شي چې د وکالت قرارداد د بې مفهومه پایلې لپاره وکړي.

**دوهمه برخه- د مؤکل رازونه ساتل**

که څه هم د هېواد په قوانینو کې د اسرارو او یا راز دقیقه پیژندنه نه ده شوې، خو ځیني لیکوالان فکر کوي چې راز د هغه کړنو څخه عبارت دی چې خلک د هغه په پټ ساتلو ټینګار کوي او د حقوقي لیکنو کې راز پیژندنه داسې شوي ده: راز هر هغه څیز ته ویل کیږي چې په ښکاره کولو یې د خلکو پیژندنې، حیثیت او کرامت ته زیان رسیږي.

راز په هره ټولنه کې یو اخلاقي ارزښت ګڼل کیږي، او د نورو خلکو د راز په ساتنه کې بې پروایي داسې مثال ورکوي چې امانت مال ضایع شي، دا د ارزښت ضد ده، خو د ځینو دندو چې ځیني اشخاص په کې بوخت دي او د خلکو د رازونو څخه خبر دي، په پوره معنی د راز ښکاره کولو اخلاقي جرم باید ونه کړي؛ ځکه په قوانینو کې هم ورته کړنو تضمین نشته. له همدې کبله د افغانستان جزا کود (۶۲۷) ماده کې د رازونو ښکاره کولو اړوند داسې ټینګار شوی دی: "هغه شخص چې د دندې، کسب، پیشې، صنعت، فن په حکم یا د خپل کار د طبیعت په لحاظ په یوه سر د اسرارو څخه،

[30] . (۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. مدافع وکیلانو قانون، ۱۳ ماده، (۲).

[31] . (۲۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. د اساسنامې (۱) ګڼه ضمیمه، ۱۸ ماده.

[32] . هماغه. ۱۵ ماده.

[33] . هماغه. د مدافع وکیلانو قانون، ۱۶ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم حاصل کړي او هغه د قانوني مصرحه حالاتو په غير کې افشاء کړي يا هغه د ځان يا بل شخص په منفعت استعمال کړي، د اسرارو د افشاء د جرم مرتکب پېژندل کېږي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي."[34] همدارنګه، "که چېرې د سر له افشاء څخه موخه له جنايت يا جنحې او يا د هغو له ارتکاب څخه مخنيوی وي يا د سر صاحب د هغو په افشاء اجازه ورکړې يا دا چې له هغو څخه موخه د عامه ګټو تأمين وي، مرتکب تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي."[35]

د مدافع وکيل د قانوني مکلفيتونو څخه يو دا هم دی چې د خپل مؤکل رازونه وساتي، ځکه د اساسي قانون (۳۱) مادې په آخره کې د مدافع وکيل او مؤکل تر منځ د رازونو محرميت په اړه داسې ټينګار شوی دی: "د متهم او د هغه وکيل تر منځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي دي."[36]

د افغانستان مدافع وکيلانو قانون (۱۳) ماده کې د مدافع وکيلانو دندو روښانه کولو په هکله داسې ټينګار کړی دی: "مدافع وکيل د لاندې وجيبو لرونکي دی: ۱- د مؤکل د اسرارو ساتل... ."[37]

د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواکې ټولنې د اساسنامې (۱) ضميمې (۱۱) ماده کې د مدافع وکيلانو د مؤکل د رازونو ساتلو چلند او سلوک په هکله داسې ټينګار کوي: "۲- مدافع وکيل د همکارانو، کارمندانو او هغو کسانو، چې د حقوقي خدمتونو له وړاندې کولو سره اړه لري، د رازونو په ساتلو مکلف دی".[38]

د يو وکيل لپاره په هغه صورت کې چې د خپل مؤکل رازونه افشاء کړي سزا او تعزيرات په ګوته کيدل د دې خبرې تضمين کوي؛ چې ټول هغه مراجعين چې غواړي د وکالت دفترونو ته ولاړ شي په آسانۍ سره وکولای شي د دعوي اړوند او يا د حقوقي مشورې په وخت کې ټول حقيقتونه او واقعيتونه وکيل ته روښانه کړي او همدا ډول د مؤکل د باور او اعتماد له کبله د وکيل د احتمالي ناوړه ګټه اخيستنې مخه ونيول شي.

د وکالت اصلي جوهر امانتداري ده او هر هغه چا چې د وکالت مسلک غوره کړی، هغه په ښکاره ډول دا په ځان منلي چې کوم مالونه او رازونه چې ده ته سپارل کيږي هرومرو خپل ځان امين ګڼي. وکيل د ټولو رازونو چې د دندې په وخت کې؛ که هغه د مؤکلينو يا نورو مراجعينو پورې اړه ولري، پوره معلومات ترلاسه کوي؛ ځان امين ګڼي او د هغه رازونو ښکاره کول پرته د قانوني کړنو د سزا او مسئوليت لاندې راتللی شي.

د وکيل د پورتنيو شخصي ټکو ته د پاملرنې له مخې، که څه هم له قانوني او اخلاقي پلوه د خپل مؤکل د رازونو د ساتلو مکلف دی، خو له خپل مسلکي موقف څخه په استفادې سره بايد د شواهدو، دلايلو او جزايي اسنادو د پټولو او له منځه وړلو لامل نه شي. که داسې حالت سره مخامخ شي يوازې دا نه چې خپل اخلاقي مسئوليت يې د پخو لاندې کړی؛ بلکې د بل پلوه به ورته د سزا مسئوليت هم

[34]. (۱۰) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. جزا کود، ۶۲۷ ماده.
[35]. هماغه. ۶۳۰ ماده.
[36]. (۹) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. اساسي قانون، ۳۱ ماده.
[37]. (۲۵) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د مدافع وکيلانو قانون، ۱۳ ماده، (۱).
[38]. (۲۷) ګڼه لمنليک ته دې مراجعه وشي. د اساسنامې (۱) ضميمه، ۱۱ ماده، (۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوګرځي؛ چې په نتیجه کې ورته کړنه د محکمې د ګمراهۍ او مجرم سره د همکارۍ سبب ګرځي.[39]

د جزا کود (۴۶۹) ماده کې راځي: "که څوک د قضاء د تضلیل یا د حقیقت د پټولو په قصد د اشخاصو، اماکنو یا شیانو حالت ته بدلون ورکړي یا د جرم مادي ادله پټ یا له منځه یوسي او یا په جرم پورې اړوند کاذب معلومات د هغو په نه صحت ( نه سموالي) د علم با وجود وړاندې کړي له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي: ۱- په هغه صورت کې چې جرم جنحه وي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدې جزا. ۲- په هغه صورت کې چې جرم جنایت وي په متوسط حبس."[40]

**فرضیه:**

د مؤکل اعتماد ته په کتو چې په خپل وکیل یې لري؛ د قضیه اړوند ټول حقیقتونه خپل مدافع وکیل ته روښانه کوي، د مثال په توګه که فرض کړو؛ تورن د تحقیق په وخت په هغه ځانګړې جرم چې نوموړی پرې تورن شوی کوم اعتراف او اقرار و نه کړي، او همدا ډول د اثبات لپاره مؤثر دلیل لکه شهادت یا مادي دلیلونه د جرم ارتکاب په اړه د قضیې په اسنادو کې موجود نه وي، چې د شخص مجرمتوب ثابت کړي؛ خو ځینې قرینې داسې شته تورن ته منسوب وي او دی چې په جرم د تورن کېدو لپاره ترې مفهوم واخیستل شي، په دغسې حالاتو کې تورن چې کوم باور په خپل مدافع وکیل لري، خپله اړ کېږي چې د قضیې د څرنګوالي په اړه او څنګه پېښه وشوه روښانه کوي چې دا پخپله د جرم د ارتکاب اعتراف په معنی ده.

اوس پوښتنه دا منځته راځي چې، آیا مدافع وکیل د هغه سوګند په اړه چې د وکالت دندې لپاره یې خوړلی احکام او قوانین به پلي او احترام به ورته وکړي؟ او همدا ډول د محکمې او قضاء په وړاندې په ریښتینولۍ وینا او کړنه ترسره کړي؟ آیا د تورن څخه به دفاع و نه کړي؟ پداسې حال کې چې تورن د تحقیقاتو په جریان کې د هر ډول جرم څخه انکار کړی وي او د بل پلوه د وکالت دفاع سوګند خط په آخره په ټینګار سره یادونه شوي چې مدافع وکیل به په هیڅ صورت خپل مؤکل سره خیانت نه کوي، که چېرته مدافع وکیل د خپل مؤکل رازونه ښکاره کړي؛ په اصل کې د قانون او قرارداد خلاف کړنه ده، که چیرته دا معلومات هم وشي چې تورن د جرم مرتکب شوی دی خو بیا هم دفاعیه باید په داسې شکل ترتیب او وړاندې شي چې د مؤکل د جرم مرتکب نه دی شوی، په حقیقت کې خپله اصلي دنده چې د عدالت رعایت دی، د قاضي لارښونه د حکم په ورکولو او ریښتینولي او د قانوني احکامو رعایت څخه نه پاملرنه ګڼل کېږي.

په داسې وخت کې د دوه حالاتو وړاندوینه کولی شو؛ لومړی دا چې مدافع وکیل د خپل مؤکل سره په قرارداد د وکالت دفاع خدماتو ژمنه په شخصي بڼه کړې ده او دویم حالت دا چې مدافع وکیل د دولت له لورې ورته کار لپاره مؤظف شوی دی، یا په بل عبارت حقوقي همکار دی چې د حقوقي مفتو خدماتو لپاره د اړمندو تورن شوو کسانو لاس نیوی د اساسي قانون او د جزایي اجرآتو قوانینو په رڼا کې خپله دنده ترسره کوي.

---

[39]. (۲۶) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. احد الله عظیمی، ۲۹ م.

[40]. (۱۰) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. جزا کود، ۴۶۹ ماده، (۱) او (۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي حالت کې چې کله تورن په خپل جرم اعتراف وکړي مدافع وکیل ته په کار ده چې د خپلې دندې وکالت څخه استعفاء ورکړي، یا پرته له دې چې د جرم د ارتکاب له اصولو څخه دفاع وکړي، د جرم د شرایطو او تورن په اړوندو قضیو کې ترې دفاع وکړي، په دوهم حالت کې چې کله مدافع وکیل په شخصي او ځانګړې قرارداد د خپل مؤکل سره و نه لري بلکې د دولت له لورې ورته په دغه ماموریت امر شوی وي، نو بیا مسأله نوره هم سخته وي؛ ځکه مدافع وکیل دا حق نه لري چې د خپل وکالت څخه استعفاء ورکړي، ځکه چې هغه دا دنده په خپله خوښه نه ده اخیستې؛ مګر هغه کولی شي په داسې ډول استدلال وکړي چې د هغه مؤکلین ورته روښانه کوي (...) یا په بل عبارت؛ یواځې دې د مؤکل د خپلې ژبې باندې وینا نقل کړي، یا دا چې فرعي او جزئي موضوعات ووایې، خو نوموړی نه شي کولای چې د موضوع حقیقت ته د رسیدنې په پار د مؤکل په جرم ارتکاب د نه کولو په پار دلایل وړاندې کړي، چې مؤکل یې جرم نه دی کړی او یا بل چا دا جرم کړی دی او ادعا کوونکو په ناحقه توګه د ده مؤکل ته قضیه راتاوه کړې او هغه باندې یې تور لګولی دی.
په پورته دواړو حالاتو کې دا خبره ډیره اړینه او ضروري ده، چې مدافع وکیل په هیڅ صورت دا حق نه لري چې د خپل مؤکل هغه رازونه، چې مؤکل یې ورته ویلي وي راڅرګند کړي او دا خبره وکړي چې مؤکل یې خپله په جرم اعتراف کړی دی او هغه مجرم دی.

مؤکل سره محرمیت په دې معنی دی، چې د مؤکل ټولې اړیکې د وکیل سره محرمې دي او وکیل په دې مکلف دی چې هغه وساتي او څرګند یې نه کړي، خو د جرم اړوند هغه شواهد او مدرکونه چې احتمال لري پولیس یا څارنوال یې د تحقیق په جریان کې لاسته راوړي او یا یې په نښه کړي د مؤکل د رازونو د جملې څخه نه شمیرل کیږي او همدارنګه چې د خپلې دندې څخه سوء استفاده ونه شي، چې د جرم اړوند شواهد پټ کړي. دا خبره باید د یاده ونه باسو، چې مدافع وکیل باید د مقابل لوري رازونه چې د وکالت په اعتبار یې لاسته راوړي راڅرګند کړي، دغه کړنه به د دې مخه ډب نه کړي چې کله ورته مواردو ته اړتیا ولیدل شي او د دفاع په وخت د مقابل لورې سره په دعوی کې ترې ګټه پورته کړي.[41]

**دریمه برخه- د مؤکل د ګټو ساتنه**

د مدافع وکیل یو د مهمو مسئولیتونو څخه دا دي چې د خپل مؤکل ګټې وساتي، ځکه مؤکل په پوره باور نوموړی وکیل د خپلو ځانګړو او شخصي کړنو لپاره نماینده ټاکلی دی او د خپل وکیل څخه د هغه د ګټو ساتنه او د په سمه توګه د هغه کارونه سرته رسولو پرته کومه غوښتنه نه لري، له همدې کبله هغه ژمنه چې وکیل خپل مؤکل سره په قرارداد کې کړي ده باید د خپل مؤکل څخه لس چنده دفاع وکړي.

د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند مقرره (۱۰) ماده کې داسې تینګار شوی دی: "مدافع وکیل مکلف دی د عدالت د تأمین د قانون رعایت او د اخلاقي معیارونو د ساتلو په موخه د مؤکل منافع په نظر کې ونیسي".[42] همدارنګه، د مدافع وکیلانو قانون (۱۳) ماده (۵) فقره کې داسې تینګار شوی دی: "مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکی دی: ۵- مقابل لوري ته د هر ډول حقوقي مساعدت څخه ډډه

. هماغه. احد الله عظیمی، ۲۹، ۳۰ م م.[41]
. (۲۷) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. اساسنامې (۱) ضمیمه، ۱۰ ماده.[42]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول"،[43] او همدا ډول، د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند مقرره (۸) مادې (۲) فقره کې داسې ټینګار شوی دی: "که چېرې مدافع وکیل د موجه ؤ عذرونو له کبله ونشي کولای قضیه پر مخ بوزي له منلو څخه دې ډډه وکړي".[44]

چې ورته موضوع د مؤکل د ګټو د ساتنې روښانیتا کوي، چې د مدافع وکیل له لورې ترسره کیږي او له همدې کبله د مؤکل ګټو ته نه پاملرنه او هغه په نظر کې نه نیول یا مقابل لوري سره همکاري؛ هغه کړنه ده چې د حقوقي مقرراتو او د وکالت دفاع د دندې اخلاقي ارزښتونو خلاف ده چې یو مدافع وکیل حتماً باید ترې ځان وساتي، او دغه کړنه د یو لورې څخه د مدافع وکیل ټولنیز مسئولیت ګنل کیږي او د بل پلوه د مدافع وکیل حیثیت په ټولنه کې هم خرابوي او د هغه د شان او عزت ښکته کولو سبب ګرځي، او په آینده کې ورته ډول مدافع وکیل چې د مؤکل ګټې یې خوندي کړي نه اوسې هیڅوک پرې باور نه کوي.

**درېیم جز: د قضائي مراجعو پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب**

تر ټولو لویه انساني سرمایه ادب او شرافت دی او د یو مسلکي وکیل لپاره همدا امتیاز بس ده، چې په هر حالت کې د قاضیانو مختلفو اخلاقي چلندونو سره سره کولی شي چې د خپل مؤکل څخه په سمه توګه دفاع وکړي او په ځینې حالاتو کې د قاضي ستړتیا یا کاري، روحي یا رواني فشار له امله نامناسب چلند سره مخامخ کیږي. مدافع وکیل باید د اسلامي اخلاقو په رڼا کې د قاضي په وړاندې د اسلامي آدابو او احترام رویه خپله کړي. کله نا کله قاضیان د کم تجربې د زاویو په نظر کې نیولو سره، د واک او ځواک له امله رامنځته شوي غرور له امله، د حکمونو او فرمانونو د صادرولو لپاره د قلم استعمال واک په پار، ناخوښ چاپیریال او په حقوقي مسایلو کې نظري او عملي پوهې کمښت، د وکالت وظیفې اړوند منفي نظر او یا د ځینو مدافع وکیلانو د شخصیت اړوند منفي نظر، قضایاوو ته د نه رسیدنې باور، د وکیل ځینو وړاندې شوي دلایلو روښانه کولو باندې نه اعتماد او په ځانګړې توګه په اداره او شعبه باندې د قاضي ناسم مدیریت، د ډیرو دوسیو شتون، په دفتر کې په خپل پرسونل په سمه توګه نه نظارت او د دوسیو سرته رسولو لپاره د کار ډیر بوج پر ځان منل؛ ټول هغه لاملونه دي چې د وکیل د ناراحتۍ سبب وګرځي.

له همدې کبله مؤکل د الله تعالی څخه په هیله د وکیل نرمښت او مهربانۍ ته انتظار کاږي، چې د وکیل او د قاضي ترمنځ اړیکې ټینګې اوسي، تر څو د بې احترامۍ چاپیریال رامنځته نه شي او الله تعالی مه کړه د دوسیې پرمختګ ممانعت ونه شي؛ که چیرته د وکیل څخه د نامناسو شخصي غوښتنو لپاره غوښتنه وشي، نو اړینه ده چې له ورته غوښتنو تیر شي؛ ځکه د مدافع وکیل مقام دا مسئولیت لري چې د م،کل حقوق وساتي. مدافع وکیل مجبور دی چې زغم او استقامت څخه کار واخلي او د خپل مقام د ادب او اخلاقو دریځ وساتي او په ضمن کې هڅه وکړي چې پرته د کوم سبب د دعوې پرمختګ ټکنی نه کړي، ځکه د مدافع وکیلانو قانون (۱۳) ماده (۹) فقره کې داسې ټینګار شوی دی: "مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکي دی: ۹- د هغه عملونو څخه مخنیوی چې بې موجبه د محکمې د حکم او د تحقیق بهیر د ځنډیدو سبب ګرځي".[45]

---

[43]. (۲۵) ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي. مدافع وکیلانو قانون، ۱۳ ماده، (۵).
[44]. هماغه. اساسنامې (۱) ضمیمه، ۸ ماده، (۲).
[45]. هماغه. د مدافع وکیلانو قانون، ۱۳ ماده، (۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند مقرره (۲۷) ماده کې د مدافع وکیل محاکمو سره د اړیکو اړوند داسې ټینګار کړی دی: "مدافع وکیل مکلف دی چې په محکمه کې د قضایاو پر مخ بولو او یا د محکمو دیوانونو ته د حاضرئ په وخت کې د قانون احکامو اړوند کړنه ترسره کړي"،[46] د دې مادې محتوا د محکمو په وړاندې د وکیل قانوني فعالیت ته اشاره کوي. د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند په مقرره (۲۸) ماده کې داسې ټینګار شوی دی: "مدافع وکیل نه شي کولای چې د پوهې سره محکمې ته ناچله اسناد وړاندې کړي".[47]

دغه کړنه نه یوازې کولی شي چې د جزایي پلوه مدافع وکیل د مسئولیت لاندې راولي، په ضمن کې د اخلاقي لید لوري څخه هم ډیر بد او د اخلاقي ارزښتونو څخه لیرې کړنه ده او د مدافع وکیل عزت او وقار ته پوره تاوان رسولی شي، له همدې کبله مدافع وکیل باید د قاضیانو پر وړاندې د ادب، احترام، زغم او پوره صبر څخه کار واخلي.

**څلورم جز: د نورو وکیلانو او همکارانو پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب**

دا چې دوه وکیلان د خپلو مؤکلینو د حقونو دفاع په پار په خپلو کې د علمي او فني ټکر سره مخامخ کیږي، ورته کړنه د منلو وړ او شاید حتمي ووسي، خو که چیرته دغه فني او علمي ټکر شخصي او فردي چلند غوره کړي، نو هیڅکله هم د منلو وړ نه ده. مؤکلین او دوسیې به ځي او راځي خو د دواړو خواوو وکیلان د وکیلانو د ټولنې غړي او همکاران پاتې کیږي، نو لازمه ده چې:

کله چې مؤکلین د مخکینې وکیل څخه ګیله کوي یا د هغه اړوند غیبت کوي، نو باید د خپل همکار حق پر ځای کړي او د خپل وس اړوند د ناسوب همکار څخه دفاع وکړي، د محکمې مقام ته په خطاب کې هیڅکله هم د دغه عنوانونو: یوه همکار یا محترم همکار او ورته نور القاب د بل لورې وکیل ته استعمال پرې نږدي او نه یې هیر کړي. که د همکار څخه مو په استدلال او خبرو کې اشتباه یا فاحشه غلطي ترسترګو شوه، نو هیڅکه هم هغه مه ردوئ او نه داسې خطاب ورته وکړئ چې د موضوع څخه بهر وي او د خپل مؤکل د ګټې په پار هیڅکله هم هغه ته سپکاوی مه کوئ او مه ورته پیغور ورکوئ او ځان ورسره مه مخامخ کوئ.

هیڅکله هم اجازه مه ورکوئ، چې زمونږ په شتون کې زمونږ د همکار سپکاوی وشي، که د مؤکل له لورې وي او که د قضاء مقام له لورې وي او یا د بل لورې وي. که د همکارانو څخه ګیله یا په هغوی باندې انتقاد لرئ یا د هغوئ څخه شکایت لرئ؛ په لومړي قدم کې زیار وګالئ چې موضوع د خبرو له لارې مستقیمه حل شي، وروسته پړاؤ کې دا هڅه هم وشي چې د قضیې په حل کې د خپلو نورو تجربه لرونکو همکارانو څخه کمک وغوښتل شي او د مدافع وکیلانو خپلواک انجمن ته او یا د قضاء او محکمې مقام ته خپله موضوع وړل د ټولو هڅو په آخر کې په نظر کې ولرئ.

او خبره دې ته ونه رسیږي، چې یو مدافع وکیل خپل همکار او هم مسلکي په خلاف ناروا تبلیغات وکړي؛ ځکه د مدافع وکیلانو قانون د (۱۳) ماده په (۸) فقره کې داسې ټینګار شوی دی: "مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکي دی: ۸- د نورو وکیلانو پر ضد له ناوړو تبلیغاتو څخه ډه-ډه کول...".[48]

---

[46] . هماغه. اساسنامې (۱) ضمیمه، ۲۷ ماده.
[47] . هماغه. ۲۸ ماده.
[48] . هماغه. د مدافع وکیلانو قانون، ۱۳ ماده، (۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د مدافع وکیلانو د سلوک او چلند مقرره (۲۹) ماده کې داسې ټینګار شوی دی: "مدافع وکیل د ټولو مدافع وکیلانو سره د همکار په صفت چلند کوي، او نه شي کولای چې د مدافع وکیل ګټې د خپل مؤکل د ګټو څخه مخکې کړي".[49]

**پنځم جز: د مدافع وکیلانو د ټولنې پر وړاندې د مدافع وکیل وجایب**

مدافع وکیل د وکالت جواز د مرحلو بشپړولو او د مدافع وکیلانو انجمن غړیتوب اخیستلو باندې مکلف دی، ټول قوانین، مقررات، تګلارې او د مرکز او انجمن تنظیمات مراعت کول، او د وکیلانو د شان او مقام ساتنه چې په نتیجه کې د مدافع وکیلانو د خپلواک انجمن مقام په ټولنه او درې قوو سره په ارزښت پیژندل دي. د مدافع وکیل او د مدافع وکیلانو خپلواک انجمن اړیکې په بشپړه توګه روښانه شوي او د مدافع وکیلانو انجمن پریکړې، چې د مدافع وکیلانو په هکله دي او د هغوئ ځای او لوړ مقام او د دې پاک مسلک ارزښت په ګوته کوي.

که د یو طرف نه د مدافع وکیلانو خپلواک انجمن هغه دندې او مسئولیتونه په ګوته کیږي، چې باید کم تر کمه یوه مجله خپرول، حقوقي روزنه ورکول، حقوقي کلینیکونه پر مخ وړل، د ستاژ دورې ترسره کول، او په رسنیو کې حقوقي پوهاوی او نور داسې مکلفیتونه لري او د بل لورې د مدافع وکیلانو د کړنو څخه نظارت کول، او وظیفي په جریان کې د مدافع وکیلانو د حقوقو څخه دفاع کول، او د هغوئ د واک تثبیت عدالت تأمین لوړوي او ټولنه کې دغه مسلک په سمه توګه پیژندل کیږي او په نتیجه کې دغه مسلک خپل اصلي او ټاکلي موخي ته رسیږي.

وکیل مکلف دی چې د وکیلانو له ټولنې سره په هره برخه کې ملاتړ وکړي او د خپلو موخو او اهدافو په پرمخ بیولو کې کوشش کونکی او ځیرک وي. د ټولنې مادي او معنوي حقونه مراعت کړي او د خپلې کورنۍ په پرمختګ او غوښتنو کې هڅه کونکی وي.

د وکیلانو د چلند په اړه د وکیلانو د قانون، د افغانستان د وکیلانو د اتحادیې اساسنامه، او د دې قانون د (۱) ضمیمې ځینې مسؤلیتونه په لاندې ډول دي:

د مدافع وکیلانو د قانون (۱۳) ماده د انجمن پر وړاندې د مدافع وکیل د وجایبو په اړه داسې صراحت لري: "مدافع وکیل د لاندې وجایبو لرونکی دی: ... ۱۰- نورو اشخاصو ته د دارالوکالې د نوم او عنوان له په عاریت ورکولو څخه ډډه کول. ۱۱- د دارالوکالې د ادرس د بدلېدو په هکله اړوندو مراجعو ته خبر ورکول. ۱۲- د جواز نوي کول. ۱۳- د قانون د حکمونو مطابق پر عایداتو باندې د مالیاتو ورکول. ۱۴- د مدافع وکیلانو انجمن ته د کلنیو عایداتو خبر ورکول. ۱۵- د عدلیې وزارت په تایید په یوه کال کې په وړیا توګه لږ تر لږه له دریو جنایي قضیو څخه دفاع. ۱۶- د مدافع وکیلانو د انجمن په اساسنامه کې درج د سلوک د قواعدو په پام کې نیول. ۱۷- د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامې مطابق د نورو دندو سرته رسول."[50]

---

. هماغه. اساسنامې (۱) ضمیمه، ۲۹ ماده.[49]
. هماغه. د مدلفع وکیلانو قانون، ۱۳ ماده، (۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷).[50]

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه، د افغانستان د وکیلانو د خپلواکې ټولنې د اساسنامې په (۳۳) ماده کې د انجمن د غړي مکلفیتونه په لاندې ډول بیان کړي دي: "د انجمن غړی لاندې مسؤلیتونه لري:

۱- د دې قانون د احکامو سره سم د امتیازاتو او غړیتوب فیسونو تادیه.

۲- د انجمن اړوند چارو پرمخ وړلو کې فعاله ونډه اخیستل.

۳- د اتحادیې د باصلاحیته چارواکو د پریکړو پلې کولو رعایت.

۴- په اړوندو غونډو کې ګډون.

۵- د مدافع وکیلانو د قانون له حکمونو سره سم د مظنون او متهم له حقونو څخه په وړیا توګه دفاع.

۶- د مدافع وکیلانو د قانون د احکامو، د دې اساسنامې او د مدافع وکیلانو د چلند څارنه.

۷- د حقوقي مرستو د خدمتونو په وړاندې کولو کې د حقوقي مرستو له خپلواک بورډ سره همکاري."[51]

د وکیلانو د چلند په اړه د وکیلانو د ټولنې د اساسنامې (۱) ضمیمه په مختلفو مادو کې د وکیل دندې په لاندې ډول بیانوي:

(۲) ماده: "مدافع وکیل مکلف دی چې د مشورو او حقوقي خدمتونو ترسره کولو پر مهال په خپلو کړنو کې د مدافع وکیلانو په قانون کې ټاکل شوي معیارونه مراعت کړي."[52]

(۳۹) ماده: "مدافع وکیل مکلف دی چې د دفاع وکالت د خدماتو د ترسره کولو او حقوقي مشورې ورکولو په وخت کې د مدافع وکیلانو قانون او د دې قانون په احکامو کې د ټاکل شوي معیارونو سره سم عمل وکړي."[53]

(۴۰) ماده: "د دې اساسنامې د احکامو څخه د سرغړونې په صورت کې، سرغړونکی د دغه اساسنامې د احکامو مطابق د تأدیب وړ ګڼل کیږي او د شکایت په صورت کې د رهبرۍ شورا کولای شي، د مدافع وکیلانو د قانون د (۲۷) مادې د (۲) فقرې د (۳) او (۴) بند او د اساسنامې د (۴۰) مادې له مخې د ټولو غړو د دوه ثلث رایو سره، د متخلف (سرغړونکي) شخص په تأدیب اقدام وکړي."[54]

[51] . هماغه. اساسنامې (۱) ضمیمه، ۳۳ ماده.

[52] . هماغه. ۲ ماده.

[53] . هماغه. ۳۹ ماده.

[54] . هماغه، ۴۰ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پایلـــــــــــــــــــــــــــــــه**

د ۱۳۹۳ ل کال د جزائي اجراآتو قانون چې معمولاً جزائي دعوی ته د رسیده ګۍ له پروسیجر (شکلیاتو) څخه بحث کوي، د مظنون او تورن حقوق په کې په واضح ډول ذکر شوي دي؛ مګر د مظنون او تورن وجایبو په اړه په کې وضاحت شتون نه لري. اساسي پوښتنه دا ده، چې آیا مظنون او تورن ته د جزائي دعوی په مختلفو پړاوونو کې کوم وجایب راجح کېږي یا نه؟
د جزائي اجراآتو په قانون کې د مظنون او تورن د وجایبو نه ذکر کول یوه قانوني خلا ده، چې قضاتو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو ته یې د سؤ استفادې زمینه مساعده کړې ده او له بل پلوه د حقوقو او سیاسي علومو او شرعیاتو پوهنځیومحصلین او فارغان د عمل په ډګر کې د مظنون او تورن له وجایبو څخه ناخبره دي. قانون جوړونکي باید دغه قانوني خلا رفع کړي او د مظنون او تورن حقوقو تر څنګ د هغه وجایب هم په واضح توګه ذکر کړي؛ تر څو له یوې خوا په ټولنه کې جنائي عدالت په ښه شکل تأمین شي او د قضاتو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو د سؤ استفادې مخنیوی وشي او له بل پلوه د حقوقو او سیاسي علومو او شرعیاتو پوهنځیو محصلین او فارغان په دې وپوهېږي، چې په عمل کې مظنون او تورن ته د جزائي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې کوم وجایب راجح دي او کوم وجایب (مکلفیت) ورته نه دی راجح. مظنون او تورن باید له مربوطه مسؤلینو سره په لازمی همکاری او د سکونت محل د تغیر په هکله د محل پولیسو ته په خبر ورکولو مکلف وګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وړاندیـــــــــــــــــــــــــزونه**

- مقننه قوه باید جزائي اجراآتو قانون کې د مظنون او تورن د حقوقو ترڅنګ د هغوی مکلفیتونه (وجایب) هم ذکر کړي.
- که د حقیقت تثبیت د مظنون یا تورن د همکارئ پرته ناممکن وي او مظنون یا تورن هم امتناع وکړي لکه ځان اړینو معاینانو ته نه وړاندې کول، نو مربوطه مسؤلین د جدي چالش سره مخ کیږي، چې په دې اړه هم د جزائي اجراآتو قانون کې وضاحت نشته او باید چې قانون جوړونکي دغه موضوع روښانه کړي.
- که مظنون یا تورن د ضمانت په واسطه خوشې شي، نو په اسانئ سره خپل اقامت محل تغیروي او بیا د هغه پیدا کول ستونزمن کیږي، نو فلهذا دا ضروري ده تر څو د جزایي اجراآتو قانون کې مظنون او متهم مکلف وګڼل شي؛ ترڅو د تحقیق په جریان کې یا د قضایي رسیده ګئ په وخت کې د محل د تغیر په اړه د محل پولیسو ته خبر ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مـأخـــــــذونــــــــــه**


1. تائب، برکت الله (۱۳۹۶ ل). فقهي قواعد، څلورم چاپ، د حکمت خپرندویه ټولنه، جلال آباد، افغانستان.
2. دانش، حفیظ الله (۱۳۹۸ ل). د جزائي محاکماتو اصول، لومړی ټوک، ژباړن: بصیر احمد کوچی، دوهم چاپ، مستقبل خپرندویه ټولنه، جلال آباد، افغانستان.
3. عظیمي، احدالله او نور (۱۳۹۶ ل). مباحث عمومي وکالت دفاع برای کلینیک های حقوقی بنیاد، چاپ اول، شرکت چاپی و تبلیغاتی مارک، کابل، افغانستان.
4. نظامي، عبدالقیوم (----). اصول اجرآت و محاکمات جزایی، جلد اول.
5. اساسنامه انجمن مستقل وکلای مدافع افغانستان.
6. د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ ل). ۸۱۸ رسمي جریده.
7. د مدافع وکیلانو قانون (۱۳۸۶ ل). ۹۳۴ رسمي جریده.
8. د مدافع وکیلانو د سلوک او د چلند د ډول په هکله د مدافع وکیلانو د خپلواکي ټولنې د اساسنامې (۱) گڼه ضمیمه (----).
9. د جزائي اجراآتو قانون (۱۳۹۳ ل). ۱۱۳۲ رسمي جریده.
10. د جزا کود (۱۳۹۶ ل). ۱۲۶۰ رسمي جریده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**